**د افغانستان اسلامي امارت**

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۳۰/ ذو القعدة الحرام /۱۴۴۵ هـ، ق مطابق ۱۸/ جوزا /۱۴۰۳هـ، ش**

# په مذاهبو کې د حنفي مذهب جامعیت او فوقیت

الحمد لله الذي هدانا إلى الملة الحنيفة السمحاء، وبين لنا طرق الشريعة بواسطة الأنبياء والعلماء والأصفياء، والصلاة والسلام على سيد الرسل وسند الأولياء وعلى آله وأصحابه نجوم الاقتداء والاهتداء، أما بعد:

قال الله تعالى: { وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ } التوبة: (۱۰۰)

الله جل جلاله ټول انسان یو شان نه دي پیداکړي ، ځینې یې ناپوهان پیداکړي دي، ځینې نور یې بیا علماء او فقهاء پیداکړي دي او ځینې نور یی بیا په دین کې لوی فضیلت او شان لري .

همدارنگه د انسانانو سعي او کوښښونه هم یو شان نه وي ، د انسانانو ځینې کارونه خلکو ته بدي او تاوان اړوي خو د ځینو نورو کارونه بیا ټول د انسانانو او خاصکر د مسلمانانو د خیرخواهۍ او هغوی ته د فائدې رسولو لپاره وي چې په هغو کارونو کې د مجتهدینو او فقهاوو اجتهادات شامل دي چې د ناپوهانو او بې علمه خلکو د پوهې لپاره یې بې سارې زحمتونه ګاللي او ددې لپاره چې ددوی عبادات او معاملات په سمه توګه او د شریعت سره موافق اداء شي؛ نو شپې او ورځې یې په دې لاره کې د ژوند په ډیر سختو شرائطو کې کوښښونه کړي دي او ددوی د اسایش لپاره یې فقهې اجتهادات کړي دي او کتابونه یې لیکلي دي؛ ترڅو اسلامي امت هدایت ومومي، په سمه لاره روان شي او ژوند یې د شریعت موافق جوړشي؛ البته طبیعي خبره ده چې دځینو مجتهدینو خدمات به زیات وي او د ځینو نورو به کم وي او دځینو فقهاوو خدمات به د ځینو نورو په نسبت زیات ګټور وي؛ چې ددغو فقهاوو او مجتهدینو په سر کې د حنفي مذهب فقهاوو او مجتهدینو زحمتونه او خدمتونه د یادونې وړ دي چې زیات مؤثر او زیات ګټور دي؛ ځکه د دوی زیارونه ښکلي او اسلامي امت ته یې د هغوی ددنیوي او اخروي سعادت لپاره فقهي اجتهادات او استنباطات کړي دي او ددوی په منځ کې یې ایښي دي او دوی ته یې په دین عمل کول اسانه کړي دي.

حنفي مذهب چې مونږ او تاسو یې پیروان یو د نورو مذاهبو په منځ کې ډیرې ځانګړتیاوې او خصوصیتونه لري چې دا ځانګړتیاوې، جامعیت او فوقیت په نورو مذهبونو کې نه لیدل کیږي .

غواړو چې نن ورځ د هغه مذهب پر جامعیت او په نورو مذهبونو د فوقیت په اړه یو څه معلومات ستاسو حضور ته وړاندې کړو.

په مذاهبو کې حنفي مذهب جامعیت او فوقیت لري چې  ددې مذهب د جامعیت او فوقیت دلائل او نمونې ځینې یې په لاندې توګه دي:

## ۱- دحنفي مذهب مؤسس امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله جلیل القدر تابعي ؤ:

د هر مذهب جامعیت او فوقیت د هغه مذهب له مؤسس څخه معلومیږي، حنفي مذهب ځکه په نورو مذاهبو جامعیت او فوقیت لري چې ددې مذهب مؤسس جلیل القدر تابعي دی او دکوم مذهب امام چې تابعي وي ، حتماً هغه مذهب د هر پلوه غني، جامع او برتر مذهب دی.

د حنفي مذهب مؤسس امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله جلیل القدر تابعي ؤ او دده پر وخت کې اوه صحابه کرام ژوندي ؤ .

معتبر مؤرخین لکه ابن خلکان، صیمري او خطیب بغدادي وایې چې دده پر وخت کې اووه(۷) صحابه کرام ژوندي ؤ او امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله انس بن مالک رضي الله عنه لیدلی او له هغه څخه یې روایت هم نقل کړی دی.

د امام اعظم رحمه الله په وخت کې دغه صحابه کرام ژوندي ؤ :  أنس ابن مالك، عبد الله بن أنس، عبد الله بن الحارث بن جزء الزبيدى، ، عبد الله بن أبى أوفى، جابر بن عبد الله الأنصارى، واثلة بن الأسقع ، وعائشة بنت عجرد رضي الله عنهم .[ مغاني الأخيار في شرح أسامي رجال معاني الآثار للعيني (۳ /۱۲۲)]

امام صیمري،حافظ ابن مزي او حافظ ابن کثیر او نور مؤرخین لیکي چې امام ابو حنیفه رحمه الله په شپاړس کلنۍ کې په (۹٦) هجري کې حضرت انس بن مالک رضي الله عنه لیدلی دی او امام صیمري وایې چې امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه دا دوه حدیثونه نقل کړي دي: (...فَسَمعته يَقُول سَمِعت رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم يَقُول من تفقه فِي دين الله كَفاهُ الله همه ورزقه من حَيْثُ لَا يحْتَسب). [ مغاني الأخيار للعيني (۳ /۱۲۲)]

ترجمه:- نو ما د انس بن مالک رضي الله عنه څخه واوریدل چې وه ویل ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې داسې یې وفرمایل: څوک چې دالله په دین کې پوهه حاصله کړي ، الله تعالی به یې دده دغم لپاره کافي شي او رزق به ورکړي دداسې ځای نه چې دی به یې ګمان هم نکوي.

په یو بل روایت کې امام صیمري وایې : عَن بشر بن الْوَلِيد عَن أبي يُوسُف عَن أبي حنيفَة قَالَ سَمِعت أنس بن مَالك رَضِي الله عَنهُ يَقُول سَمِعت النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم يَقُول الدَّال على الْخَيْر كفاعله وَالله يحب إغاثة اللهفان). خبار أبي حنيفة وأصحابه للصيمري الشافعي (ص: ۱۷-۱۸)

په یو بل روایت کې راځي امام ابویوسف رحمه الله وایې چې امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایي چې ماد انس بن مالک رضي الله څخه داحدیث هم اوریدلی دی: (وروى عن أبى يوسف أنه قال: قال أبو حنيفة: سمعت أنس بن مالك يقول: سمعت رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يقول:(طلب العلم فريضة على كل مسلم ).مغاني الأخيار في شرح أسامي رجال معاني الآثار (۳ /۱۲۳)

ترجمه:- طلب د علم فرض دی په هر مسلمان باندې.

په یو بل روایت کې راځي چې امام اعظم ابوحنیفه له حضرت عبدالله بن انیس رضي الله عنه څخه هم یو حدیث اوریدلی دی.

دابو داوود طیالسي په روایت کې راځي: وعن أبى داود الطيالسى، عن أبى حنيفة، قال: ولدت سنة ثمانين، وقدم عبد الله بن أنيس الكوفة سنة أربع وتسعين، ورأيته وسمعت منه وأنا ابن أربع عشرة سنة يقول: سمعت رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يقول: (حبك للشىء يعمى ويُصّم).مغاني الأخيار للعيني(٣ /١٢٢)

ترجمه:- دامام ابو حنیفه رحمه الله څخه روایت دی چې زه په اتیایم (٨٠) هجري کې تولد شوی یم او حضرت عبدالله بن انیس په (٩٤) هجري کې کوفې ته راغلی ؤ او ما هغه لیدلی دی او له هغه څخه مې اوریدل هم کړي دي او زه په دغه وخت کې څوارلس کلن وم ما له حضرت عبدالله بن انیس څخه واوریدل چې داسې یې وفرمایل: ستا محبت د یو شي سره ړندول کوي او کڼول کوي.

امام بدرالدین عیني وایې حضرت انس بن مالک رضي الله په بصره کې اخري صحابي ؤ چې په ( ٩١ ٩٢ یا ٩٣) هجري کې وفات شو ؛ نو په دغه وخت کې دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله عمر (١١یا ١٢ یا ١٣) کاله ؤ. او حضرت عبدالله بن الحارث بن جزء رضي الله عنه آخري صحابي ؤ چې په مصر کې په (٨٨) هجري کې وفات شو او امام اعظم رحمه الله په دغه وخت کې (٨) کلن ؤ، او حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضي الله عنه په کوفه کې اخري صحابي ؤ چې په (٨٧) هجري کې وفات شو چې امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په دغه وخت کې (٧) کلن ؤ او حضرت واثله بن الأسقع په دمشق کې په (٨٥ یا ٨٦) هجري کې وفات شو او امام اعظم رحمه الله په دغه وخت کې (٥ یا ٦) کلن ؤ. مغاني الأخيار في شرح أسامي رجال معاني الآثار للعيني(٣ /١٢٤)
دا ښکاره خبره ده چې حنفي مذهب د خیر القرون په دوهمه طبقه دتابعینو په وخت کې رامنځ ته شوی دی او ددې مذهب مؤسس د نبي علیه السلام زمانې ته د نورو مذاهبو په نسبت نږدې ؤ چې دا ددې مذهب پر نورو مذهبونو د فوقیت لوی دلیل دی.
او دا د حنفي مذهب د جامعیت دلیل هم دی ځکه چې داکابرو صحابه کرامو څخه یې فقه نقل کړې ده.

## ٢- حنفې مذهب په حقیقت کې د صحابه کرامو د فقهې او فتاواو ترتیب او تدوین دی.

د حنفي مذهب د مؤسس امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله استادان اکثره هغه څوک ؤ چې فقه یې د حضرت عمر رضي الله عنه ، علي بن ابي طالب رضي الله عنه، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، عبدالله بن عباس رضي الله عنه او زید بن ثابت رضي الله عنه څخه زده کړې وه لکه نافع مولى ابن عمر، زيد بن على بن الحسين، زيد بن أسلم مولى عمر بن الخطاب ، جعفر بن محمد الصادق ، محمد بن المنكدر ، هشام بن عروة، ابراهیم نخعي، طاووس بن كيسان، عامر الشعبى،عبد الله بن دينار، عطاء بن أبى رباح، عطاء بن السائب ، عكرمة مولى ابن عباس، علقمة بن مرثد، عمرو بن دينار، عون بن عبد الله بن عقبة بن مسعود،عبد الله بن الحسن ابن الحسين بن على بن أبى طالب، عبد الله بن أبى نجيح، عبد الله ابن نافع مولى ابن عمر، عبد الله بن حميد بن عبيد الأنصارى، عبد الله بن سعيد المقبرى رحمهم الله تعالى عنهم جميعا او د صحابه کرامو فقه او فتواګانې ددوی له لارې امام ابوحنیفه رحمه الله او نورو شاګردانو زده کړې دي چې ددغو اکابرو تابعینو څخه اخذ د نورو مذهبونو امامانو په برخه شوی نه دی مګر یوازې دځینو څخه دامام مالک رحمه الله اخذ کړی دی او دا ددې خبرې لپاره قطعي دلیل دی چې حنفي مذهب په حقیقت کې د کتاب الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو څخه وروسته د مجتهدینو صحابه کرامو دفقهې او فتواګانو څخه ترتیب شوی دی.

ددې څخه په ښکاره ډول معلومیږي چې دغه صحابه کرام دنورو صحابه کرامو په نسبت زیات فقیه او پوهه ؤ ځکه په صحابه کرامو کې هم فقهاء او غیر فقهاء موجود ؤ؛ نو حنفي مذهب هغه مذهب دی چې ددې مذهب مسائل د فقهاؤ صحابه ؤ پر فقه بناء دي.

امام مسروق چې د صحابه کرامو شاگرد ؤ وایې: عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ: شَامَمْتُ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَوَجَدْتُ عِلْمَهُمُ انْتَهَى إِلَى سِتَّةٍ: إِلَى عُمَرَ وَعَلِيٍّ وَعَبْدِ اللَّهِ وَمُعَاذٍ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ. فَشَامَمْتُ هَؤُلاءِ السِّتَّةِ فَوَجَدْتُ عِلْمَهُمُ انْتَهَى إِلَى عَلِيٍّ وَعَبْدِ اللَّهِ). الطبقات الكبرى ط العلمية (٢ /٢٦٧)

ترجمه:- امام مسروق رحمه الله وایې ما معلومات وکړ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اصحابو کې ؛ نو دا خبره مې پیدا کړه چې د ټولو صحابه کرامو علم او پوهه په شپږو کسانو کې را جمع شوی ده : په عمر رضي الله عنه کې، په عبدالله بن مسعود رضي الله عنه کې ، په معاذ بن جبل رضي الله عنه کې، په ابودرداء رضي الله عنه کې په زید بن ثابت رضي الله عنه کې. ، بیا مې ددې شپږو کسانو په اړه معلومات وکړ ؛ نوا خبره مې وموندله چې ددې شپږو کسانو علم او پوهه علي رضي الله عنه او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته راجمع شوی دی.

ددې مطلب دادی چې حنفي مذهب په جامعیت کې او په تفوق کې سارې نلري؛ ځکه چې د ا مذهب دهغه چا په فتوگانو او فقه بناء دې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو علم هغوی راجمع کړی ؤ او پر هغوی ختم شوی ؤ.

ابو بکر خطیب بغدادي په خپل تاریخ کې ذکر کړي دي: (قال أَبُو حنيفة: دخلت على أبي جعفر أمير المؤمنين فقال لي يا أبا حنيفة عمن أخذت العلم؟ قال: قلت عن حماد عن إبراهيم عن عُمَر بن الخطاب، وَعلي بْن أَبِي طَالِبٍ، وَعبد اللَّه بن مسعود، وعبد الله بن عباس، قال: فقال أَبُو جعفر بخ بخ استوثقت ما شئت يا أبا حنيفة الطيبين الطاهرين المباركين صلوات الله عليهم). تاريخ بغداد وذيوله ط العلمية (١٣ /٣٣٤-٣٣٥)

ترجمه:- امام ابوحنیفه رحمه الله وایې زه یوځل امیرالمؤمنین ابو جعفر المنصور ته ورغلم، هغه راته وویل: ای ابوحنیفه ! له چا څخه دې علم زده کړی دی ؟ ما ورته وویل: له حماد څخه هغه د ابراهیم نخعي څخه هغه د عمر بن الخطاب، او علي بن ابي طالب، او عبدالله بن مسعود او عبدالله بن عباس-رضي الله عنهم – څخه زده کړی دی.ابو جعفر وویل: بخ، بخ ، محکم کړی دې دی علم څومره چې دې خوښه شوی ده ای ابوحنیفه –رحمه الله- د سپیڅلو، پاکو او مبارکو خلکو څخه دالله تعالی درود دې وي پر هغوی.

د همدې وجې نه فقهاء کرام د حنفي مذهب د جامعیت او فوقیت په اړه وایې: (قال خلف بن أيوب: صار العلم من اللَّهُ تَعَالَىَ إِلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثم صار إلى أصحابه، ثم صار إلى التابعين، ثم صار إلى أبي حنيفة وأصحابه فمن شاء فليرض، ومن شاء فليسخط). تاريخ بغداد وذيوله ط العلمية (١٣ /٣٣٦)

ترجمه:- خلف بن ايوب رحمه الله وايي: علم د الله تعالی له جانب څخه حضرت محمد مصطفی ته ورکړل شوی دی ، بيا د هغه اصحاب کرامو ته ورکړل شوی دی، بيا تابعينو ته ورکړل شوی دی بيا امام ابوحنيفه او د هغه اصحابو ته ورکړل شوی دی ، پس که دچا خوښه وي نو خوشحاله دې شي او كه د چا خوښه وي خپه دې شي.

متل دی (والفضل ما شهدت به الأعداء ) فضيلت هغه دې چې دښمنان ورباندې اعتراف وکړي.دا راويات مې د خطيب بغدادي چې د حنفي مذهب سرسخته مؤرخ دی نقل کړل؛ ترځو خلک په دې پوهه شي چې دښمنانو هم د حنفي مذهب په کره والي، جامعيت او فوقيت اعتراف کړی دی.

## ۳- حنفي مذهب د لومړي ځل لپاره په شورائي او اجماعي توګه د ابوابو او کتابونو په شکل کې تدوين شو.

حنفي مذهب د نورو مذاهبو په نسبت جامعيت او فوقيت لري؛ داځکه چې ددې مذهب مسائل د مجتهدينو له خوا په شوراېې او مباحثوي شکل ترتيب او تدوين شوي دي چې ددې مذهب په جامعيت او فوقيت دلالت کوي.

د صحابه کرامو څخه وروسته هغه مذهب چې فقهي مسائل يې دلومړي ځل لپاره د ابوابو او کتابونو په شکل کې تدوين شول هغه حنفي مذهب دی او دا خصوصيت او فوقيت يواځې حنفي مذهب ته حاصل دی.

د د کوفې ښار چې حضرت عمر رضي الله عنه آباد کړی ؤ ، په کوفه کې ډير زيات صحابه کرام او تابعين فقهاء اوسيدل لکه امام علقمه بن قيس نخعي ، امام ابراهيم بن يزيد نخعي ، امام اسود بن يزيد نخعي ، امام مسروق بن الاجدع چې دغو ټولو د صحابه کرامو څخه احاديث او فقه روايت کړي دي او ددې څخه علاوه په کوفه کې زيات د علم قرائت امامان موجود ؤ ، د عربي لغت امامان موجود ؤ، د نحوې، صرف، بلاغت امامان موجود ؤ، مؤرخين موجود ؤ ، بر سيره پر شرعي علومو د فلسفې او سيانسي علومو او د علم الجدل پوهان موجود ، ددې څخه علاوه په کوفه د نورو اديانو پيروان موجود ؤ. امام ابن سيرين رحمه الله فرمايي: (أتيت الكوفة، فرأيت فيها أربعة آلاف يطلبون الحديث، وأربعمائة قد فقهوا).[ المحدث الفاصل للرامهرمزي(ص: ٣٧٢)

ترجمه:- زه کوفې ته راغلم اوپه کوفه کې مې څلورزره خلک وليدل چې ټولوداحاديثو زده کړه کوله ترڅلور سوه په کې داسې علماء ؤ چې فقهاء ؤ.

ځينو مؤرخينو ليکلي دي چې په کوفه کې دری (۳۰۰) صحابه کرام موجود ؤ. الفكر السامي في تاريخ الفقه الاسلامي.

په داسې ښار کې چې د مختلفو فقهاوو او علماوو مرکز ؤ، په داسې ښار کې د امام اعظم ابوحنيفه د فقهې او اجتهاد مدرسه هم موجود وه او په دغه مدرسه کې دده شاګردان هم موجود ؤ او د امام صاحب له شاګردانو علاوه نور رسيدلي مجتهدين هم دده علمي حلقې ته ورتلل او دده نظرياتو او اجتهاداتو ته به يې غوږ کيښوده او کله ناکله به يې ورسره مباحثه هم کوله.

په داسې آزاده فضاء کې امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د حنفي مذهب د فقهې د تدوين لپاره څلوېښت کسيزه کميټه او فقهي مجمع تأسيس کړه چې پر مفسرينو، محدثينو، لغويينو او مؤرخينو مشتمله وه؛ ترڅو فقهي مسائل ، موضوعات او احكام په کې

له هر پلوه وڅېړي او له مناقشې او مباحثې څخه وروسته د مسئلې نهایې شکل او حکم تدوین کړي ؛چې له دې څخه دحنفي مذهب جامعیت او فوقیت پر نورو مذاهبو معلومیږي ؛ځکه چې نور مذاهب یواځې د هغه مذهب د امام نظریات او اجتهادات دي چې ور باندې د فقهاؤ، مفسرینو، لغویینو او اصولیینو بحث نه دی کړی او یواځې د یو امام قریحه ده.

په دغه فقهي مجمع کې د امام ابویوسف رحمه الله چې په احادیثو او مغازیو کې امام ؤ، امام محمد بن الحسن شیباني چې په لغت کې ستر امام ؤ، او امام زفر بن هذیل چې په قیاس کې ماهر ؤ ، په شان فقهاوو ددغې کمیټې عضویت درلود، چې هر یو مستقل فقیه او امام ؤ.

او امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله هغه څوک ؤ چې د اسلام په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره یې د فقهې دڅېړنې، تحقیق، تدقیق او تدوین لپاره د وخت د برجسته علماوو او فقهاوو څخه څلویښت کسیز علمي او فقهي کمیسون جوړ کړ او خپله یې د هغې فقهي کمیټې مشري کوله.

امام اسد بن فرات رحمه الله وايي: (كَانَ أَصْحَاب أبي حنيفَة الَّذين دونوا الْكتب أَرْبَعِينَ رجلا وَكَانَ فى الْعشْرَة الْمُتَقَدِّمين أَبُو يُوسُف وَزفر وَدَاوُد الطَّائِي وَأسد بن عَمْرو ، ويوسف بن خَالِد السَّمْتِي وَيحيى بن زَكَرِيَّا بن أبي زَائِدَة وَهُوَ الَّذِي كَانَ يَكْتُبهَا لَهُم ثَلَاثِينَ سنة ). الجواهر المضية في طبقات الحنفية (١ /١٤٠)

ترجمه:- دامام ابوحنیفه رحمه الله ملګرو هغو کسانو چې د فقهې کتابونه یې تدوین کړل څلویښت کسان ؤ، چې په هغو لسو مخکښو کې ابو یوسف، زفر، داؤد طائي، اسد بن عمرو ، یوسف بن خالد سمتي، یحیی بن زکریا بن أبی زائدة شامل ؤ، یحیی بن زائده هغه کس ؤ چې د احنافو لپاره به یې تر دیرشو کلونو پورې لیکل کول. امام عیني رحمه الله ورباندې درې کسان ورزیات کړي دي: عافیة القاضی، مندل بن علی، حبان بن علی. مغاني الأخيار (٣ /٢٠٦)

چې دامام ابوحنیفه رحمه الله دا کړنه ددې خبرې دلیل دی چې حنفي مذهب لره په نورو مذهبونو باندې جامعیت او فوقیت حاصل دی؛ ځکه چې دا مذهب د دې مذهب د تدوین لپاره شوری جوړه کړه او د نور مذاهبو په شان یواځې په تنهایې سره امام ابو حنیفه رحمه الله نه دی تدوین کړی بلکې ددې مذهب اساس په مشوره ، مباحثه او مناقشه بناء دی او امام ابوحنیفه رحمه الله به د خپلو اصحابو او مجتهدینو سره په یوه یوه مسئله باندې مشوره کوله او دهغوی دلائل به یې اوریدل او په هغې به یې فکر کولو او خپل دلائل به یې هم هغوی ته ویل او ورسره به مناظره کوله ترڅو حق ته ورسیږي له زیاتو اقوالو څخه به یې یو قول غوره وګڼلو او هغه به په کتاب کې ولیکه.

ددغه کمیټې د طرزالعمل او دامام ابوحنیفه رحمه الله د منهج په اړه امام ابویوسف رحمه الله داسې وايي:(كان أبو حنيفة إذا وردت عليه المسألة قال: ما عندكم فيها من الآثار، فإذا روينا الآثار، وذكرنا، وذكر هو ما عنده، نظر فإن كانت الآثار في أحد القولين أكثر أخذ بالأكثر، فإذا تقاربت، وتكافأت؟ نظر فاختار). المدخل إلى دراسة المذاهب الفقهية/ على جمعة محمد عبد الوهاب (ص: ٩٠)

امام ابوحنیفه رحمه الله ته به چې کومه مسئله راوړل شوه نو هغه به وویل: هغه احادیث چې تاسو سره دي په دې برخه کې هغه راوړي نو کله به چې مونږ آثار ذکر کړل او بیان به مو وکړ او هغه به هم هغه څه ذکر کړل چې له هغه سره به ؤ ، نو بیابه یې وکتل

چې په دواړو اقوالو کې به چې اثار زيات ؤ ، په هغو زياتو اثارو به يې عمل کولو ، کله به چې دغه اثار سره نږدې ؤ او يا به برابر ؤ بيا به يې په کې فکر کولو او له دوی څخه به يې غوره کول.

په يو بل روايت کې راځي اسد بن فرات وايې چې ماته اسد بن عمرو وويل:(كانوا يختلفون عند أبي حنيفة في جواب المسألة فيأتي هذا بجواب، وهذا بجواب، ثم يرفعونها إليه، ويسألونه عنها، فيأتي الجواب من كثب - أي من قرب - وكانوا يقيمون في المسألة ثلاثة أيام ثم يكتبونها في الديوان). المدخل إلى دراسة المذاهب الفقهية/ علی جمعة محمد عبد الوهاب (ص: ٩٠)

ترجمه:- دامام ابو حنيفه اصحاب به ځينې وخت دامام ابوحنيفه رحمه الله سره د مسئلې په جواب کې ورسره مختلف شول، نو يو به داسې جواب راوړ بل به داسې جواب راوړ ، بيابه يې دا جوابونه امام ابوحنيفه رحمه الله ته وړاندې کړل او له ده څخه به د هغې جوابونو په اړه پوښتنه کوله، نو جواب به درست راغی او هغوی به ځينې وخت په يوه مسئله باندې درې ورځې هم تيرې کړې او بيابه يې په ديوان(کتاب)کې وليکله.

ځينې خلک وايې چې امام ابوحنيفه رحمه الله په فقه کې (٦٠) شپېته زره مسائل وضع کړل او په بل روايت کې راځي چې امام ابو حنيفه رحمه الله (٣٠٠٠٠٠) درې سوه زره مسائل وضع کړل. [الفكر السامي في تاريخ الفقه السلامي ٤١٩/١]

### ۴- د حنفي مذهب د جامعيت او فوقيت ددې مذهب تقديري فقه ده.

دا واضح حقيقت دی چې د ټولو واقع کيدونکو مسائلو او نوازلو او جزئياتو ذکر صراحةً په قرآن کريم کې او په صحيحو آحاديثو کې نشته؛ بلکې د واقع کيدونکو مسائلو او نوازلو حکم فقهاء کرام د کتاب الله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له احاديثو او دصحابه کرامو له فتاواؤ څخه استنباطوي.

حنفي مذهب له دې امله د نورو مذاهبو په نسبت جامعيت او فوقيت لري چې په حنفي مذهب کې فقه تقديري شتون لري او نور مذاهب دا فضيلت نلري. تقديري او فرضي فقه دې ته ويل کيږي چې د هغو مسائلو او نوازلو لپاره مخکې له مخکې حکم بيان شي چې لا واقع شوي نه وي او کله چې واقع شي جواب لا د مخه په کتابونو کې موجود وي.

په حنفي مذهب کې د تقديري او فرضي فقهې شتون ددې مذهب له ځانګړتياوو څخه ده او همدا وجه ده چې په فقهي کتابونو کې د هرې مسئلې مسبق جواب شته او فقهاء کرامو په دې امت باندې شفقت کړی دی او دا زيار يې ويستلی دی او د واقع کيدونکو مسئلو حل يې ذکر کړی دی چې دا کار د حنفي فقهې په وسعت او جامعيت دلالت کوي.

د تقديري فقهې د ګټې او فائدې په هکله يوځل امام ابوحنيفه رحمه الله د امام قتاده رحمه الله څخه د يوې مسئلې پوښتنه وکړه: ( قال قتادة: والله الذي لا إله إلا هو، ما يسألني اليوم أحد عن الحلال والحرام إلا أجبته، فقام إليه أَبُو حنيفة، فقال: يا أبا الخطاب، ما تقول في رجل غاب عن أهله أعواما، فظنت امرأته أن زوجها مات، فتزوجت، ثم رجع زوجها الأول، ما تقول في صداقها؟...

فقال قتادة: ويحك، أوقعت هذه المسألة؟ قال: لا، قال: فلم تسألني عما لم يقع؟ فقال أَبُو حنيفة: إنا نستعد للبلاء قبل نزوله، فإذا ما وقع عرفنا الدخول فيه والخروج منه) تاريخ بغداد ت بشار (١٥ /٤٧٧)

ترجمه:- امام قتاده رحمه الله وویل: قسم په هغه الله چې له هغه پرته بل الله نشته ، نن ورځ به له ما څخه یو کس د حلالو او حرامو په باره کې پوښتنه ونکړي مگر داچې زه به یې ځواب ورکړم.امام ابوحنیفه رحمه الله ورته ور پورته شو او ورته یي وویل:ای ابوخطابه! ته څه وایې په باره د هغه سړي کې چې د خپلې ښځې څخه څو کاله غائب شو، نو ښځې یې گمان وکړ چې خاوند یې مړ شوی دی ؛ نو هغې ښځې د بل سړي سره نکاح وکړه ، بیایې خپل پخوانی خاوند راغی، ته ددغه ښځې د مهر په باره کې څه وایې؟

امام قتاده رحمه الله په ځواب کې وویل: هلاک شی آیا دا مسئله واقع شوی ده؟ امام ابوحنیفه رحمه الله وویل: نه ! نه ده واقع شوی. قتاده رحمه الله ورته وویل: نو ته له ما څخه دداسې مسئلې په باره کې ولې پوښتنه کوئ چې هغه نه ده واقع شوی؟ امام ابوحنیفه رحمه الله ورته وفرمایل: مونږ ځان بلاء او مصیبت ته چمتو او آماده کوو مخکې د بلاء د واقع کیدو څخه؛ کله چې بلاء واقع شي نو مونږ به په بلاء کې داخلیدل او ور څخه وتل یاد کړي وي.

نن سبا په اسلامي نړۍ کې زیات مفتیان د حنفي مذهب د تقدیري فقهې دمسائلو څخه زیاته استفاده کوي او ورڅخه گټه اخلي.

## ۵- په قیاس او استحسان کې توسع د حنفي مذهب د جامعیت او فوقیت دلیل دی.

د اسلام د مبارک دین څخه مخکې بغداد او کوفه د مختلفو ادیانو او غیر اسلامي مذاهبو ټاټوبی او مرکز ؤ او چې کله بغداد د اسلامي حکومت برخه وگرځید او اسلامي تعلیمات په کې رشد وکړ، کوفه او بصره اسلامي او دیني مرکزونه شول، بیا هم داسلام په جامه کې په عراق کې د منحرفو مفکورو خاوندان موجود ؤ او د اسلامي عقایدو او احکامو په اړه به یې وخت پر وخت اعتراضونه او سوالونه راپورته کول .عراق ته لکه د حجاز په څیر د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول احادیث او د صحابه کرامو فتواگانې نه وی رسیدلی. همدا راز دامام ابوحنیفه رحمه الله په زمانه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې وضع او دروغ ویل په عراق کې رائج شوي ؤ او ځینو خلکو به له ځانه احادیث جوړول.

د بلې خوا څخه عراق د تمدنونو او ادیانو ځمکه وه او فقهاوو ته به داسې قسماقسم موضوعات راتلل چې د مکې مکرمې او مدینې منورې مجتهدین او فقهاء به د هغو مسائلو او دهغو له جوابونو نه خبریدل.

دا هر څه ددې لامل شو چې امام ابوحنیفه رحمه الله من حیث د فقیه العراق په فقهي دلائلو کې توسع راولي ترڅو د هرچا د سوال ځواب په کې وموندل شي او عام خلک چې په ورځني ژوند کې د مشکلاتو سره مخ دي د هغوی د معاملاتو لپاره شرعي او دیني توجیه پیدا شي.

بناءً امام ابوحنیفه رحمه الله قیاس او استحسان د فقهي اصولو په حیث زیات استعمال کړل او د ضرورت په اساس یې په استحسان کې زیاته توسع رامنځ ته کړه چې په نورو مذهبونو کې نه وه او فقهاء کرامو له دې لارې یې وکولای شو چې د ولس شته ستونزې ورباندې حل کړي چې دا دحنفي مذهب په جامعیت او فوقیت باندې دلالت کوي.

البته په قیاس او استحسان کې توسع د هرچا د وسع او توان کارنه دی؛دا د هغو فقهاوو کار دی چې په فطانت او ذکاوت کې انتهاء ته رسیدلي وي.

بلی! په حنفي  مذهب کې ضعیف حدیث د قیاس څخه بهتره دی؛ خو چې په مسئله کې ضعیف حدیث هم شتون ونلري نو قیاس او استحسان ته رجوع کول د مجتهد د اعذارو څخه دي.

دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد فقهي اصول اووه دي: کتاب، سنت، د صحابه ؤ اقوال، إجماع، قیاس، استحسان او عرف.

په حنفي مذهب کې په قیاس او استحسان کې توسع موجود ده ددې لپاره چې په قیاس او استحسان کې مصالح العباد زیات دي او د امت مسائل پرته له جوابه نه پاتې کیږي او بل په استحسان کې سهولت او آساني ده  او د شریعت حکمونه په آسانی بناء دي چې دا ځانګړتیا په نورو مذاهبو کې کمه ده یا په کې بیخي نشته لکه شافعي او حنبلي مذهبونو کې.

امام ابوحنیفه رحمه الله د فقهې لپاره خپل اصول داسې بیان کړي دي: زه لومړی په کتاب الله عمل کوم که چیرې ما په کتاب الله کې د موضوع حل پیدا نکړ ، د هغه مو ضوع حل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې لټوم او د ثقه راویانو په صحیحو روایتو عمل کوم ، که چیرې د موضوع حل مې په کتاب الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې پیدا نکړ، بیاد رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو ته رجوع کوم دځینو صحابه ؤ نظر اخلم او د ځینو نورو نظر پریږدم او ددوی له نظرونو څخه نه وځم او کله چې خبره امام ابراهیم نخعی، شعبي ، حسن بصری، ابن سیرین او سعید بن مسیب ته راورسیږي هغوی اجتهاد کړی دی او زه هم اجتهاد کوم لکه څرنګه چې هغوی اجتهاد کړی دی.[ أخبار أبي حنيفة للصيمری شافعي]

امام موفق مکې وایې: د امام ابوحنیفه رحمه الله په کلام کې اخذ په ثقه دی او د قبحې څخه فرار دی او د خلکو معاملات په نظر کې ساتل دي او هغه څه په نظر کې ساتل دي چې خلک ورباندې ولاړ دي او د هغوی چارې ورباندې سمې دي، کارونه به په قیاس مخ په وړاندې بوتلل کیږي کله چې قیاس ناکاره ؤ، بیا به کارونه په استحسان مخکې بوتلل کیږي ترڅو چې کار سم وي ، کله چې کارونه په استحسان نه سمیږي بیا به رجوع کوي(مجتهد) هغه څه ته چې خلک ورباندې تعامل لري. [المدخل إلى دراسة المذاهب الفقهية على جمعة محمد عبد الوهاب (ص: ٩٢)

ځینو خلکو  حنفي مذهب په دې مشهور کړی دی چې حنفي مذهب د احادیثو پر خلاف ولاړ دی.

امام ذهبي لیکي: (رَوَى نُوحٌ الْجَامِعُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا حَنِيفَةَ يَقُولُ: مَا جَاءَ عَنِ الرَّسُولِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَعَلَى الرَّأْسِ وَالْعَيْنِ...

وَقَال وَكِيعٌ: سَمِعْتُ أَبَا حَنِيفَةَ يَقُولُ: الْبَوْلُ فِي الْمَسْجِدِ أَحْسَنُ مِنْ بَعْضِ الْقِيَاسِ.

قَالَ أَبُو مُحَمَّدِ بْنُ حَزْمٍ: جَمِيعُ الْحَنَفِيَّةِ مُجْمِعُونَ عَلَى أَنَّ مَذْهَبِ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ ضَعِيفَ الْحَدِيثِ أَوْلَى عِنْدَهُ مِنَ الْقِيَاسِ وَالرَّأْيِ).

تاريخ الإسلام للذهبي ت بشار (٣ /٩٩٤)، الوافي بالوفيات للصفدي (٧/ ٣٥١)

ترجمه:- روح الجامع روایت کوي چې ده دامام ابوحنیفه رحمه الله څخه اوریدلي دي چې هغه به ویل : هغه څه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه راشي نو هغه په سر او سترګو قبلوم... وکیع بن جراح وایې ما دامام ابو حنیفه رحمه الله څخه اوریدلي دي چې په مسجد کې بول کول غوره دي د ځینې قیاس څخه. امام ابن حزم وایې: ټول احناف په دې اجماع لري چې دامام ابو حنیفه رحمه الله دا مذهب ؤ چې ضعیفه حدیث د هغه په نزد اولی ؤ د قیاس او رأی څخه.

په حنفي مذهب کې لکه دنوړواصولو په شان داحادو احادیثو لپاره ځانګړې شرطونه لري چې دا هم ددې مذهب په جامعیت اوتفوق دلالت کوي.

**٦- (المخارج من المضايق)له سختيو څخه د ويستلو په لارو چارو کې توسع دحنفي مذهب دځانګړتيا،جامعيتاو فوقيت دليل دی.**

شرعي احکام د مصالح العباد او دفع المضار لپاره راغلي دي؛ بناءً المخارج عن المضائق د سختيو څخه د ويستلو لارې شرعا جائز دي .

که څوک په کومه سخته ديني او شرعي مسئله کې راګير شي او په مشکل کې پريوځي او نه پوهيږي چې څرنګه به په شرعي او جائزه لار ددې موضوع څخه وځم؟ يا داچې يو شخص غواړي يو مباح او جائز کار ته په حلاله او جائزه لار لاس رسی پيدا کړي پرته له دې چې ګناهګار شي او يا په حرامو کې پريوځي، د حنفي مذهب له جامعيت ،فوقيت او ځانګړتيا څخه داده چې حنفي فقهاء په داسې حالاتو کې مسلمان ته شرعي لار وربنايې پرته له دې چې هغه شخص ګناهګار شي او يا د حرامو مرتکب شي او يا دبل چا حق ضائع شي؛ ترڅو هغه شخص له مشکل څخه ووځي، چې دا کار د حنفي مذهب د فقهاوو د زيرکتيا او فطانت دلالت کوي.په دې اړه حنفي فقهاوو بې شميره صورتونه په خپلو کتابونو کې ذکر کړي دي او امام خصاف رحمه الله په دې باره کې مستقل کتاب د(کتاب الحيل) په نوم ليکلی دی؛ چې دا هم د حنفي مذهب په جامعيت او فوقيت دلالت کوي.

داچې حيل په فقه کې زياتې پوهې او فقاهت ته ضرورت لري او هرڅوک نشي کولای چې په دې فن کې ليکل وکړي او يايې د عوام الناس د سهولت او آسانۍ لپاره استعمال کړي او يواځې حنفي مذهب په دې فن کې توسع راوستې ده چې دا د حنفي مذهب د جامعيت او فوقيت دليل دی، لکه د نن ورځ د اسلامي بانکدارۍ اصول اکثره چې د حنفي مذهب د(مخارج المضائق) څخه اخيستل شوي دي.

**٧- د حنفي مذهب اکثره مسائل او احکام جامع او شامل دي او د خلکو د عمل کولو لپاره اسانه دي.**

فقهي مذاهب ددې لپاره رامنځ شوي دي چې کتاب الله او د رسول الله صلی الله سنت خلکو ته تشريح ، توضيح او خلاصه کړي او په کومو مسائلو کې چې د کتاب الله او د رسول الله صلی الله د سنتو صريح حکم نه وي، د هغو مسائلو حکم له شرعي منابعو څخه استخراج او استنباط کړي ترڅو د عامو مسلمانانو لپاره په دين باندې عمل کول اسانه شي؛ ځکه دين اسانه دی او مشقت په کې نشته.

حنفي مذهب په نورو مذاهبو ځکه فوقيت لري چې که چيرې د حنفي مذهب مسائل او احکام د نورو مذاهبو سره مقارنه او مقايسه شي نو د حنفي مذهب مسائل نسبت دنورو مذهبونو مسائلو ته اسانه او عام فهمه او زيات دي. د مثال په توګه: په اودس کې نيت نه شرط دی او نه فرض، خو د مالکيانو او شوافعو په نزد په اودس کې نيت فرض دی او د حنابله ؤ په نزد په اودس کې نيت شرط دی.

په حنفي مذهب کې د لمانځه فرائض شپږ دي او په شافعي مذهب کې ديارلس دي او په مالکي او حنبلي مذهب کې څوارلس دي.

په حنفي مذهب کې په حج کې دوه رکنه دي په عرفات کې وقوف او طواف زيارت.خو د مالکيانو او حنابله ؤ په نزد د حج ارکان څلور دي او د شافعيانو په نزد د حج ارکان پنځه دي.[الفقه الاسلامي وادلته]

همدار از په حج کې د طواف شروط په حنفي مذهب کې څلور دي او په مالکي مذهب کې اووه(٧) دي او د شافعيانو په مذهب کې اته (٨) دي او د حنابله ؤ په نزد (١۴) څوارلس دي دي. په طواف کې دبې اودسۍ، حيض او نفاس څخه پاکوالی فرض او شرط نه دی بلکې واجب دی او په نورو مذهبونو کې په طواف کې طهارت شرط دی. په حنفي مذهب کې بالغه او عاقله ښځه

کولای شي پرته له ولي څخه نکاح وکړي ، خو شوافع او حنابله وایې چې د ښځې نکاح پرته د ولي د اذن څخه صحت نلري. په احوال شخصي کې حنفي مذهب د یو سړي او دوه ښځو شهادت درست دی خو نور په نورو مذاهبو کې د ددوه عادلانو سړو شهادت شرط دی. په حنفي مذهب کې که چیرې د ښځې او سړي څخه یو یې احرام ولري او نکاح وکړي ؛ نو دا عقد نکاح درست دی خو نور درې واړه مذاهب وایې داسې عقد نکاح صحت نلري. په حنفي مذهب کې د حمل اسقاط په عذر سره تر (۱۲۰) ورځو پورې جائز دی او امام مالک او امام شافعي وایې د څلوېښتو ورځو وروسته دحمل اسقاط جواز نلري.

په حنفي مذهب کې پر هغه مسافر باندې چې شرعي مسافر وي د جمعې لمونځ نشته خو درې واړو امامانو په نزد دڅلورو ورځو څخه د زیاتو ورځو مسافر باندې د جمعې لمونځ واجب دی. په حنفي مذهب کې د جمعې لمونځ درې کسان هم کولای شي؛ خو په مالکي مذهب کې د جمعې لمونځ لپاره ددولسو کسانو او په شافعي او حنبلي مذهب کې د څلوېښتو کسانو شتون لازمي دی.
په حنفي مذهب کې د خپلې ښځې لمس کول اودس نه ماتوي او په شافعي او حنبلي مذهب کې د ښځې په لمس کولو سره اودس ماتیږي. په حنفي مذهب کې د فرضي لمونځ په سستۍ سره ترک کونکی فاسق دی هغه به بندي کیږي او سخت به وهل کیږي ترڅو توبه وباسي اویا په محبس کې وفات شي ، خو نور درې واړه مذاهب وایې چې پرته د عذره د لمانځه پرېښودونکی ولو که یو لمونځ پرېږدي د مرتد په شان به ورڅخه د توبې ویستلو غوښتنه کیږي او که توبه یې ونه ویستله نو هغه به وژل کیږي. حنابله وایې د کفر په وجه به وژل کیږي او مالکیان او شوافع وایې چې د حد د اقامې په وجه به وژل کیږي نه د کفر په وجه.
په حنفي مذهب کې دیت د قاتل په اهل باندې واجب نه دی خو نور درې واړه مذاهب وایې چې دیت د قاتل په اهل باندې هم واجب دی. په حنفي مذهب کې په حدودو کې د درو وهلو څخه علاوه تغریب (د وطن څخه شړل) جواز نلري او نور مذهب ددرو وهلو څخه علاوه په تغریب (د وطن څخه په شړلو) قائل دي. .
که چیرې په اسانۍ او سهولت کې د حنفي مذهب او نورو مذاهبو ترمنځ مقارنه وشي جلدونه کتابونه به ورباندې ډک شي.
په حنفي مذهب کې په مسائلو کې د مقاصد الشریعت ترڅنګ مصالح العباد په نظر کې نیول شوي دي چې دا د دې مذهب په جامعیت او فوقیت دلالت کوي.

## ۸- د حنفي مذهب هغه اساسات او ځانګړتیاوې چې ددې مذهب په جامعیت او فوقیت دلالت کوي.

حنفي مذهب په ځینې اساسات او ځانګړتیاوې لري چې هغه ددې مذهب د جامعیت او په نورو مذاهبو د فوقیت دلیل دی چې هغه اساسات په لاندې ډول دي.

**الف:- عقلي استنباط:** حنفي مذهب دلومړیو ورځو څخه د مسائلو په تحلیل او تجزیه کې په عقلي استنباط ترکیز کړی دی؛ ځکه چې ددې مذهب مجتهدین د شریعت په درست فهم او درک کې د عقل په اهمیت او ارزښت عقیده لري او ددې وجې نه ددې مذهب فقهاوو او مجتهدینو د نصوصو څخه دمسائلو په استنباط کې دپوره عقلانیت او فهم څخه کار اخیستی دی چې دا ځانګړتیا د حنفي مذهب جامعیت او فوقیت ثابتوي.

**ب:- په ظاهري دلیل اعتماد او باور کول:** حنفي مذهب دکتاب الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صریحو نصوصو اعتماد او تکیه کړی ده او ددې مذهب فقهاء هغه تأویل چې د نص په تحریف باندې بناء وي مرفوض عمل ګڼي.

**ج:- پر مصالحو اهتمام کول**: د حنفي مذهب فقهاء او مجتهدين په دې عقيده لري چې اسلامي شريعت د عمومي او شخصي مصالحو د تأمين لپاره راغلی دی او ددې امله ددې مذهب فقهاوو لره په کار دي چې د احکامو د استنباط پر وخت دغه عامه او خاصه مصالح په نظر کې ونيسي؛ همدا وجه ده چې د حنفي مذهب تعليمات په هر وخت او زمان او مکان کې د تطبيق وړ دي او خلکو دا مذهب د عمل لپاره غوره گڼلی دی، چې دا ددې مذهب پر جامعيت او فوقيت دلالت کوي.

**د:- په فتاواوو کې نرمښت او شمول** : حنفي مذهب دا گڼي چې فتاوی بايد جامدې او ثابتې نه وي، بلکې فتاوی بايد داسې وي چې په هر ډول زمان، مکان او ظروفو کې قابل د عمل وي او تغيير قبول کړي.

**هـ:- اصالت او تجديد:**دحنفي مذهب په تاسيس کې دا په نظر کې نيول شوی وه چې فقه بايد يواځې د سابقه احکامو تکرار نه وي بلکې فقهي احکام بايد تجديد او ابتکار قبول کړي په دې شرط چې دا تجديد او ابتکار د فقهي اصولو پر بنياد ولاړ وي او د شريعت سره موافق وي. لکه د فقهي قواعدو رامنځ ته کيدل د لومړي ځل لپاره په حنفي مذهب کې ، د فقه تدوين د خلافت عثماني په وخت کې اوداسې نور.

### ۹- د حنفي مذهب په مسائلو او احکامو کې کثرت او توسع ددې مذهب د جامعيت او فوقيت بل دليل دی.

د زمانې تيريدلو اودشرائطو او ځايونو په تغير سره د حنفي مذهب په مسائلو او فقهي حکمونو کې هم توسع او زيادت رامنځ ته شوی دی او داسې مسئله به نه وي چې په حنفي مذهب کې ځواب ونلري.دحنفي مذهب مسائل په درې ډولونو سره ليکل شوي چې دطبقات المسائل ورته وايي.

**لومړۍ طبقه:** مسائل الأصول دي: چې ظاهر الروايت هم ورته ويل کيږي. دا هغه مسائل دي چې امام محمدرحمه الله په شپږو کتابونو کې ليکلي دي لکه :المبسوط، زيادات، جامع صغير، سير صغير، جامع کبير او سير کبير .

**دوهمه طبقه** : مسائل النوادر دي: دا هغه مسائل دي چې د مذهب په پورتنيو شپږو کتابونو کې نه دي ليکل شوي بلکې په نورو کتابونو کې ذکر شوي دي لکه هارونيات، کيسانيات، جرجانيات او روقيات او يا داچې د حسن بن زياد په کتاب کې ذکر دي.

**دريمه طبقه:** مسائل الواقعات والنوازل: دا هغه مسائل دي چې د حنفي مذهب له امام څخه نه دي روايت شوي خو وروستنيو مجتهدينو د هغو سوالونو او واقعاتو په جواب کې ذکر کړي دي چې له هغوی څخه يي پوښتنه شوی ده او د هغو مسائلو صريح ذکر د ظاهر الروايت په کتابونو کې موجود نه ؤ؛ نودمذهب د اصولو په رڼا کې د وخت مجتهدينو د هغو مسائلو لپاره ځوابونه استنباط کړي دي. ( رد المحتار ) .

په مذهب کې د هرډول مسائلو شتون خلکو او مفتيانو ته مسائل آسان کړي دي او ددې وجی نه حنفي مذهب يو جامع، شامل او برتره مذهب دی.

### ۱۰- د نړۍ په اکثره هيوادونو کې د حنفي مذهب د پيروانو ډير والی ددې مذهب په جامعيت او فوقيت دلالت کوي.

داچې په نړۍ کې ۰/۰۶۰ شپيته فيصده خلک د حنفي مذهب پيروان او منونکي دي او باقي څلويست فيصده په نورو درې واړو مذهبونو باندې تقسيم دي.

دامام اعظم ابو حنیفه رحمه الله د مذهب د مسائلو د زیاتوالي له امله او دهغه د زیاتو شاګردانو له امله چې په شرق او غرب، شمال او جنوب کې خپاره شول او په خپلو ځایونو کې یې مدرسې جوړي کړی او دهغه مذهب یې خلکو ته ورسولو، دا هرڅه ددې لامل شو چې د نړۍ اکثره خلک حنفي مذهب ومني او دهغې پیروي اختیار کړي. په (۱۷۰) هجري کې امام ابویوسف رحمه الله د عباسي خلافت کې قاضي القضات وټاکل شو او د عباسي خلافت چې د نړۍ په هرځای کې حاکم ؤ ، د هغه ځای حکومت به په حنفي مذهب فیصلې کولی او چې کله د عثماني خلافت دور راغی نو د وخت خلیفه رسماً اعلان وکړ چې حنفي مذهب به د عثماني خلافت رسمي مذهب وي. حنفي مذهب د عبدالله بن فروخ او داسد بن فرات رحمهم الله او دهغوی دشاګردانو په وسیله شمالي افریقا ته لکه لیبیا، تونس، جزائر، مغرب ته ورسیده او اندلس ته هم د کم وخت لپاره داخل شو. د خلیفه مهدي په وخت کې حنفي مذهب په مصر کې خپور شو او تر ډیر وخت پورې قضایې چارې او احوال شخصي دحنفي مذهب موافق په وړاندې بیول کیدل.

په شام کې په اکثرو هیوادونو کې خلک د حنفي مذهب پیروان دي او په عراق کې هم حنفي مذهب خپور ؤ .

همدا راز په ماوراء النهر کې پرته له حنفي مذهب څخه بل مذهب چا نه پیژندلو او په ارمینیا، اذربیجان او چین پورې خلک د حنفي مذهب پیروان ؤ. په جنوبي اسیا هند، بنګلدیش، اوسني پاکستان خلک د حنفي مذهب منونکي ؤ. په ترکیا، البانیا، بوسنه او هرسک ، کوسوف، ترکستان، افغانستان، قفقاز او برازیل کې هم حنفي مذهب خپور دی. چې په حنفي مذهب باندې د زیاتو خلکو عقیده او باور د حنفي مذهب د جامعیت او فوقیت لوی دلیل دی.